# شتمني
# SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: **يو مسلمان پر بل مسلمان باندي شپږ حقونه لري:**۱ ـ دا چي ورسره مخامخ سي؛ نو سلام ور اچوه. ۲ـ دا چي كله هغه دعوت وكړي؛ نو قبلوه ئې. ۳ـ دا چي كله هغه د نصيحت يا مخلصانه مشورې طلب وكړي؛ نو نصيحت يا ښه مشوره وركوه. ۴ـ دا چي هغه ته پرنجی (پرچی) راسي او هغه الحمدلله ووائي؛ نو يرحمك الله وايه. ۵ دا چي كله مريض سي؛ نو د هغه عيادت كوه. ٦ـ دا چي كله هغه مړ سي؛ نو جنازې ته ئې ور ځه. [صحيح مسلم كتاب السلام (ص:۲۱۳ ج:۲)]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د ماليې وزارت

پنجشنبه | د رجب المرجب ۱۴ - ۱۴۴۵ل س/ د سلواغي ۵ - ۱۴۰۲ل ل/ د جنوری ۲۵ - ۲۰۲۴ز/دوهم كال / ۸۴ گنه/ ٤ مخيز



## سر مقاله

### نقش صنعت در ثبات اقتصادی کشور

بخش صنعت یکی از بخش‌های مهم و تأثیرگذار بر رشد و ثبات اقتصادی و همچنین یکی از عرصه های مهم برای اشتغالزایی به شمار می‌رود. صنعت میتواند نقش نهایت مؤثر در ثبات اقتصادی کشور ها ایفا کند. ایجاد فرصت‌های شغلی برای جوانان و جامعه به طور کلی، به کاهش بیکاری و افزایش در آمد و ثبات اقتصادی کشور کمک می‌کند. از سوی دیگر صنعت با تولید کالاها و خدمات به بازار، به رشد اقتصادی کشور کمک می‌کند. تولید و صادرات صنعتی باعث افزایش عواید ملی و کاهش وابستگی به واردات می‌شود. این امر ثبات اقتصادی کشور را در برابر تغییرات نا پایدار در بازار های جهانی تقویت می کند. تقویت صنعت باعث ایجاد ارزش افزوده می شود، صنعت و تولید کالا های با ارزش عواید کشور را افزاییش داده و این امر به نوبه خود باعث بهبود اوضاع مالی دولت و افزایش سرمایه گذاری در بخش های دیگر اقتصادی را تسهیل می کند و برای ثبات اقتصادی نهایت مؤثر پنداشته می شود. معمولاً کشور های صنعتی از طریق تحقیق و توسعه، نوآوری و فناوری را ترویج می‌دهد. این نوآوری ها بهبود عملکرد و کارایی را در صنعت و سایر بخش‌های اقتصادی به همراه دارند. رشد صنعتی و فناوری سبب افزایش تولید و کاهش هزینه ها می‌شود که در نهایت به ثبات اقتصادی کشور کمک می‌کند. صنعت میتواند تنوع اقتصادی را ایجاد کند و وابستگی به بخشهای محدود را کاهش دهد. با داشتن بخش‌های مختلف صنعتی، کشور در برابر تغییرات در بخش‌های دیگر اقتصادی مقاومت بیشتری خواهد داشت. این تنوع اقتصادی به ثبات اقتصادی کمک می‌کند و خطرهای اقتصادی را تقسیم می‌کند. کشور ها ناگزیر اند برای ترویج و تشویق صنایع خود سیاست های صنعتی مناسبی را تدوین کنند. این سیاست ها ممکن است شامل ارائه تسهیلات مالی، کاهش مالیات، تشویق سرمایه گذاری خارجی و ایجاد زمینه های مناسب برای تولید و صادرات باشد. همچنان کشور ها باید برای توسعه صنعت، زیرساخت های قوی و کارآمدی را ایجاد نمایند، برای سرمایه گذاری در زیرساخت های انرژی، حمل و نقل، ارتباطات و تأمین آب و برق بتواند رشد صنعتی را تسهیل نماید. همچنان، توسعه پارک های صنعتی و مناطق آزاد نیز می‌تواند جذابیت سرمایه‌گذاران را افزایش دهد. عنصر دیگر که برای رشد صنعت در کشور به آن نیاز است، سرمایه انسانی مهارتمند و مجرب است و سرمایه گذاری در آموزش و آماده سازی نیروهای کار ماهر، ارتقاء سطح تحصیلات و ایجاد برنامه های شغلی بتواند صنعت را تقویت داده و بهبود کیفیت تولید را فراهم آورد. در مجموع باید توجه لازم بالای سرمایه گذاری ها در این بخش صورت گیرد . در حال حاضر که کشور ما از بحران بیکاری رنج می برد باید تلاش نمایم تا بالای صنایع سرمایه گذاری بشتر را انجام دهیم تا بازدهی زود هنگام داشته باشد این بازدهی باعث از بین برن بیکاری می شود . طوریکه تجارب نشان داده است ببر های آسیایی از جمله کشور های هستند که با اتکاء به سرمایه گذاری بالای صنایع کوچک توانسته اند در بین جوامع خود، اشتغالی را بوجود بیاورند و میزان زیادی از افراد بیکار خویش را در این صنایع مشغول به کار سازند. در حال حاضر امارت اسلامی افغانستان تلاش می ورزد تا تمام شرکت ها و تصدی ها که می توانند بر رشد صنعت تاثیر قابل ملاحظه داشته و طی سالیان اخیر به اثر بی توجهی و فساد غیر فعال بودند، دوباره فعال نمایند، تا با این امر مهم هم توانسته باشند زمینه کار و سرمایه گذاری را به صنعت کاران و نیروی کار مجرب برای رشد صنعت ایجاد کنند و هم سیاست سالم برای رشد وثبات اقتصادی و سرانجام رسیدن به خو کفایی ترسیم کنند.

**با احترام**

**اداره**


## د امارتي شركتونو د چارو د لا ښه والي او پرمختګ په موخه خپلواكه اداره رامنځته كېږي




د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه درانه مقام ته د امارتي شركتونو د وضعيت ارزوني كمېټې د هر اړخيز راپور شريكولو وروسته؛ عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د امارتي شركتونو د چارو د لا پرمختګ او د هيواد د اقتصادي وضعيت د لا ښه والي په موخه ځانګړی فرمان صادر كړ، چي پر بنسټ به ئې د امارتي شركتونو د رهبرۍ او مديريت په موخه خپلواكه اداره رامنځته سي. په همدې موخه د رسنيو په مركز كي غونډه جوړه سوې وه، چي د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر، د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د افغانستان بانك لوی رئيس الحاج ملا هدايت الله بدري، د امارتي شركتونو د رهبرۍ پلاوي رئيس مولوي احمد جان بلال، د كابينې يو شمېر غړو، د امارتي شركتونو رئيسانو، د خصوصي سكټور غړو او د رسنيو استازو ګډون پكښې كړی وو. په پيل كي د امارتي شركتونو د رهبرۍ پلاوي رئيس مولوي احمد جان بلال خبري وكړې او وئې ويل، چي امارتي شركتونه د هيوادونو د اقتصادي پرمختګ، د بنسټيزو پروژو د پلي كولو، خلكو ته په مناسبه بيه د توكو او خدمتونو وړاندي كولو او د ملي بوديجې په تمويل كي مهمه ونډه لري، ښاغلي بلال په هيواد كي د امارتي شركتونو او تصديو د تاريخچې او اهميت په تړاو معلومات وركړل او وئې ويل، چي په تېرو شلو كلونو كي د زياترو امارتي شركتونو فعاليتونه په ټپه درېدلي ول، جايدادونه ئې غصب سوي ول او د زورواكو له لوري د شخصي ګټو په موخه ګټه ځني اخيستل كېده. ښاغلي مولوي احمد جان بلال زياته كړه، چي د اسلامي امارت له بيا حاكميت وروسته امارتي عايداتي شركتونو ته د خاصي پاملرني په موخه د مشرتابه له لوري د امارتي شركتونو د دقيقي ارزوني پرېكړه وسوه، چي پر بنسټ ئې يوه ګډه كاري كمېټه رامنځته او د دې شركتونو هر اړخيزه ارزونه ئې ترسره كړه او وروستی راپور ئې د مشرتابه له درانه مقام سره شريك كړ، چي په رڼا كي ئې د مشرتابه له لوري د امارتي شركتونو د ادارې او رهبرۍ په موخه د خپلواكي ادارې د رامنځته كولو فرمان صادر سو او د دې فرمان له صادرېدو سره سم به، د شپږ مياشتو په موده كي يوې خپلواكي ادارې ته د امارتي شركتونو د هر اړخيز انتقال پروسه بشپړه سي. ورپسې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال خبري وكړې او د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د (۲۱) مي ګڼې فرمان سره سم ئې د امارتي شركتونو د چارو پرمخ وړلو په موخه د خپلواكي ادارې رامنځته كول ګټور ګام وباله او زياته ئې كړه، چي په هيواد كي د امارتي شركتونو كړني او خدمتونه له پوره ارزښت څخه برخمن ول او د تېري پېړۍ تر وروستۍ لسيزي پوري ئې د حكومتونو (٦٠ سلنه) بوديجه تمويلوله او خدمتونه ئې هم له خصوصي سكټور څخه په لوړ كيفيت ترسره كول. خو له بده مرغه په تېرو (۴۰) كلونو كي ياد شركتونه او تصدۍ له خورا ستونزو سره مخ سوي او فعاليت ئې په ټپه ولاړ وو، چي له نېكه مرغه د اسلامي امارت له بيا حاكميت وروسته د ماليې وزارت په هڅو امارتي شركتونه يو ځل بيا فعاله او په عوايدو كي ئې هم زياتوالی راغی. د غونډې يو شمېر نورو ويناوالو (د خصوصي سكټور استازو او د امارتي شركتونو مسؤلينو) هم د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د ياد فرمان هركلی وكړ او دا ئې د امارتي شركتونو د چارو د لا پرمختګ، د پانګوني د جلب، د انحصار او احتكار د له منځه وړلو، په بازارونو كي د سالم رقابت د رامنځته كېدلو او په ټوله كي د هيواد د اقتصادي پرمختګ په برخو كي ګټور اقدام وباله.

## د ماليې وزير د كندهار، هلمند او هرات ولايتونو له يو شمېر سوداګرو سره وكتل

د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند د كندهار ولايت د سوداګرۍ خوني له مسؤلينو او يو شمېر سوداګرو سره وكتل. په دې كتنه كي، چي د ماليې وزارت يو شمېر رئيسانو هم ګډون درلود؛ په ګمركونو كي د اموالو پر چټكو طي مراحلو، د تېلو ټانكونو د مالياتو او همدا رنګه د بررسۍ اړوند مسايلو په تړاو خبري وسوې او يادو سوداګرو د خپلو چارو پر مخ پرتي ستونزي او غوښتني هم د ماليې له وزير سره شريكي كړې. د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند ډاډ وركړ، چي پوره هڅه او كوښښ به وكړي؛ چي د سوداګرو ټولو ستونزو ته پر وخت او ښه ډول رسېدنه وسي. په پای كي د ماليې وزير، له يادو مسؤلينو او سوداګرو څخه غوښتنه وكړه؛ چي خپلي ستونزي او غوښتني په ليكلې بڼه، د عاليقدر امير المؤمنين (حفظه الله) په حكم




د ماليې وزارت او سوداګرۍ خوني ګډې جوړې سوي كمېټې سره، چي د سوداګرو ستونزو ته د رسېدني په موخه جوړه سوې شريكي كړې؛ تر څو پر وخت او عملي ډول ورته رسېدنه وسي.





د ماليه وركوونكو د شكايتونو اورېدلو رياست په روان مالي كال كي ٦۰۰ شكايتونو ته رسېدنه كړې

م ۲




د عوايدو لوی رياست رهبري پلاوي د هرات او تخار ولايت له مستوفيتونو څخه ليدنه وكړه

م ۲





د ګمركي عوارضو نوی لارښود ترتيب او د ماليې وزارت مقام له لوري منظور سو

م ۲



د عوايدو لوی رياست د رهبرۍ غړو د يو شمېر وزارتونو او ادارو له استازو سره وكتل

م ۲



د افغان طيور دولتي شركت د چرګانو سكتور او د افغانستان اقتصادي پراختيا

م ۳



IEA to Establish Independent Administration for Improvement, Development of Affairs of EOCs

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

## د نيمروز گمرک د گرځنده خارني کارکوونکو بېلابېل قاچاقي توکي نيولي دي



د نيمروز گمرک د گرځنده خارني ځيرکو کارکوونکو د ياد ولايت په بېلابېلو سيمو کې يوه اندازه قاچاقي توکي، چې هيواد ته په پټه راوړل کېدل کشف او نيولي دي. په يادو توکو کې (۳۳) ټنه مالتې، (۲۲) ټنه شيريني باب، (۲۳.۷) ټنه رُب او (۱۰) عرادې موټرسايکلونه شامل دي. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره د نيمروز گمرک ته سپارل سوي دي.

## د گمرکي عوارضو نوی لارښود ترتيب او د ماليې وزارت مقام له لوري منظور سو





د گمرکونو لوی رياست سوداگرو ته د اسانتياوو رامنځته کولو، د بيروکراسۍ ختمولو او يو لړ مثبتو بدلونونو رامنځته کولو په موخه د گمرکي عوارضو نوی لارښود په پنځو مادو، پښتو او دری نسخو کې چمتو او د ماليې وزارت مقام له منظورۍ وروسته د هيواد ټولو گمرکونو ته تکثير سو. دا چې په گمرکي فيسونو او عوارضو کې يو لړ بدلونونه راغلي ول د گمرکونو لوی رياست په ټولو گمرکونو کې د يو شان اجراآتو په موخه پخوانی لارښود لغوه کړ او پر ځای ئې نوی لارښود ترتيب کړ، چې له دې وروسته به د اجراء وړ وي. په مخکني لارښود کې خدماتي فيسونه او د نورو امارتي ادارو فيسونه، چې د گمرکونو له لوري اخيستل کېدل او همدا رنگه د سيستم او عوايدي کوډونه نه ول ليکل سوي؛ خو په دې نوي لارښود کې د گمرکي ادارو او سوداگرو د لا ښه پوهاوي او د اسانتيا رامنځته کولو په موخه فيسونه او گمرکي عوارض په څلورو برخو (واردات، صادرات، ټرانزيټ او متفرقه) وېشل سوي او په واضح ډول ليکل سوي دي. د گمرکي عوارضو د نوي لارښود پښتو او دری نسخې د لاندې لينکونو له لاري کتلی سئ.

پښتو لينک: https://customs.mof.gov.af/?s=pashto&c=customs-guidance-ps


دری لينک: https://customs.mof.gov.af/?s=dari&c=customs-guidance-dr

## د ماليه ورکوونکو د شکايتونو اورېدلو رياست په روان مالي کال کې ٦۰۰ شکايتونو ته رسېدنه کړې




د ماليې وزارت له مسؤليتونو څخه يو هم په اصولي بڼه د ماليې راټولول دي؛ تر څو د ماليه ورکوونکو حقوق هم په بشپړ ډول په نظر کې ونيول سي او د هغوی د نا خوښۍ سبب ونه گرځي. پر همدې بنسټ، د ماليه ورکوونکو د حقونو د خونديتوب او د هغوی شکايتونو ته د رسېدني په موخه د گمرکونو او عوايدو معينيت په چوکاټ کې د ماليه ورکوونکو د شکايتونو د اورېدلو رياست شتون لري، چې هر وخت کوم ماليه ورکوونکی د خپلې ماليې له ورکړې څخه خوښ نه وي؛ نو په ډاډه زړه (اصناف د معينيت مقام ته د عريضې له لاري) او د شرکتونو مسؤلين (د دغه رياست د ځانگړي فورم په ډکولو سره) خپل شکايتونه له دې رياست سره شريکوي او ياد رياست شريک سوو شکايتونو ته، د خپل تخنيکي او مسلکي تيم په وسيله په ټاکلي وخت کې رسېدنه کوي او د ماليه ورکونکي له حق څخه په بشپړ ډول دفاع کوي. د شکايتونو د اورېدلو رياست له رامنځته کېدلو څخه وروسته ډېر شمېر شکايتونو ته رسېدنه کړې ده، چې په روان (۱۴۰۲) مالي کال کې دغه رياست ته (۸۰۰) ماليه ورکوونکو خپل شکايتونه سپارلي، چې له دې شمېر شکايتونو څخه (٦۰۰) شکايتونو ته رسېدنه سوې او پاته نور هم تر څېړنو لاندې دي. ياد رياست يوه مسلکي کاري کمېټه لري، چې شکايتونو ته د رسېدني او عملي څېړنو په موخه سيمي ته ځي او د شکايت اړوند ټول ابعاد په دقيق ډول څېړي؛ ترڅو د ماليه ورکوونکو بشپړ رضايت ترلاسه کړي. د يادوني وړ ده، چې اوسمهال هر هغه ماليه ورکوونکی، چې د تثبيت سوي ماليې څخه رضايت ونه لري؛ نو په ډاډه زړه کولای سي، چې د ماليه ورکوونکو د شکايتونو د اورېدلو رياست سره خپل شکايت شريک کړي؛ ترڅو په ټاکلې موده کې د ياد رياست د مسلکي تيم له لوري په سمه توگه رسېدنه ورته وسي.

## د عوايدو لوی رياست رهبري پلاوي د هرات او تخار ولايت له مستوفيتونو څخه ليدنه وکړه




د عوايدو لوی رئيس الحاج شېر محمد مشفق د عوايدو د حقوقي خدمتونو او پاليسۍ رئيس مولوي نداء محمد صديقي او ورسره مل پلاوي د مستوفيتونو د ارزوني او څارني په لړ کې د هرات ولايت مستوفيت څخه ليدنه وکړه. په دغه ليدنه کې، چې د هرات ولايت مستوفي مفتي کفايت الله حقاني هم حضور درلود، د عوايدو لوی رئيس الحاج شېر محمد مشفق په خپلو خبرو کې د هرات ولايت د رهبرۍ او کارکوونکو د فعاليتونو قدرداني وکړ او زياته ئې کړه، دا ستاسو هڅې دي، چې لله الحمد دوه کاله کېږي موږ د خپلې داخلي بوديجې څخه استفاده کوو او ولس ستاسو د دې هڅو قدرداني کوي. همدا شان بيا د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال ښاغلي حافظ شاه حسين حسيني د تخار ولايت له مستوفيت څخه ليدنه وکړه او په دغه ليدنه کې ئې د تخار ولايت مستوفي او کارکوونکو د فعاليتونو د قدرداني تر څنگ د دوی د فعاليتونو ارزونه هم ترسره کړه . د يادوني وړده، چې د عوايدو لوی رياست د رئيس په مشرۍ او يو شمېر رئيسانو په گډون يو درې کسيز پلاوی ټاکل سوی؛ تر څو د هيواد د ولايتونو د مستوفيتونو فعاليتونه او پرمختگونه و ارزوي او د کارکوونکو ستونزي او وړانديزونه له نږدې واوري.

## د عوايدو لوی رياست د رهبرۍ غړو د يو شمېر وزارتونو او ادارو له استازو سره وکتل

د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال او د عوايدو لوی رياست کفيل حافظ خليل احمد د عوايدو د تحقيق، نظارت او پلان رئيس مولوي عبدالمجيد ابو احمد د غير مالياتي عوايدو رئيس امان الله امين او همکارانو د دوولسو وزارتونو او امارتي ادارو له استازو سره د عوايدو د راټولولو مديريت، د غيرمالياتي عوايدو د راټولو په هکله د وزارتونو او امارتي ادارو ترمنځ همغږۍ او له دوولسو وزارتونو او امارتي ادارو سره د ميزان او عقرب مياشتو د عوايدو د وضعيت په اړه ناسته او خبري وکړې. په پيل کې ښاغلي حافظ خليل احمد ووېل، چې پياوړی اقتصاد د يوه نظام لپاره د ملا د تير حيثيت لري. که چيري د ملا تير قوي وي نو ټول بدن قوي پاتي کېږي او يو نظام هم هغه وخت پياوړی گڼل کېږي، چې پياوړی اقتصاد ولري؛ نو د نظام ټولو ارگانونو ته پکار ده، چې د عوايدو په راټولولو کې نه ستړي کېدونکي هلي ځلي وکړي او موږ له ټولو هغو کسانو څخه مننه کوو، چې د عوايدو لوی رياست سره ئې د غير مالياتي عوايدو په راټولولو کې نه ستړي کېدونکي هلي ځلي کړي.



## رئيس گمرک قندهار با رئيس اداره ملي غذا و ادويه ديدار کرد

الحاج مولوی سفر محمد سحر رئيس گمرك قندهار با داكتر عبدالباری عمر رئيس اداره ملی غذا و ادويه در دفتر كارش ديدار كرد. در ابتدا رئيس گمرك قندهار به وی خوش آمديد گفت و سپس جانبين روی اهميت صحت و خطرات مواجه به انسان، حساسيت مواد غذايی و ادويه، اصول و مقررات وارد نمودن ادويه، ستراتيژی ملی و طرزالعمل ها، جلوگيری از قاچاق، كنترول معيار و كيفيت، قرنطين و گدام سازی ادويه جات، استهلاك و جلوگيری مواد غذايی و ادويه، حمايت و حفاظت توليدات ملی و ساير موارد مربوطه بحث همه جانبه نمودند. در آخر تصميم بر آن شد كه همكاری و هماهنگی دائمی ميان هر دو اداره وجود داشته باشند؛ تا از وارد كردن ادويه جات قاچاقی و فرار از محصول گمركی جلوگيری صورت گيرد.

AFDA

سال تأسيس ۱۳۹۹

شتمني SHTAMANI
اوونیزه

# د افغان طیور دولتي شرکت د چرګانو سکټور او د افغانستان اقتصادي پراختیا

پوهنوال دوکتور سید ضیأالحق بنوري

دا علمي مشاهداتي څېړنيزه ليکنه د افغانستان د چرګانو د سکټور په وړاندې ننګوني څېړي او د هيواد په اقتصادي پراختيا کې د هغې په اغېزو رڼا اچوي. د افغان طيور دولتي شرکت په ستراتيژيکو نوښتونو باندې د تمرکز کولو لپاره چې موخه ئې د اقتصادي پراختيا د خنډونو د مهمو قضاياوو حل کول دي تر بحث لاندي نيسي. اوسنۍ ننګوني؛ لکه: د نسلي چرګانو نشتوالی، د چرګانو د خوړو د خامو موادو د کرلو لپاره محدودي کرنيزي ځمکي، غير قانوني واردات او د پولټري ارزښتونو د ځنځير نشتوالی په تفصيل سره تحليلوي. دا ليکنه د افغان طيور دولتي شرکت هڅې په ګوته کوي، چې قانوني چوکاټونه ئې رامنځته کړي، د کيفيت کنټرول ئې ډاډمن کړی او د فارم لرونکو او هيواد ته د پراخ اقتصاد په ګټه د چرګانو د ارزښتونو د ځنځير رامنځته کول ئې يقيني کړي دي. همدا ډول د ورځنيو چرګوړو، درملو، واکسينونو د وارداتو په برخه کې د رسمي تړونونو نشتوالی او د مالدارانو، سوداګرو او توليدوونکو ترمنځ شته تشي لټوي. د چرګانو د ارزښت ځنځير، د نارينه او ښځينه چرګوړو بېلول او د فارمونو د مديريت د مهال وېشونو ننګوني په ګوته کوي. ليکنه د مرغدارۍ په سکټور کې د اسانه او قانوني اقتصادي پراختيا د تضمين لپاره د بازار د واضح مقرراتو، قانوني تړونونو، د کيفيت په تضمين او د محصولاتو د ارزانه کولو په اړتيا ټينګار کوي. د افغان طيور دولتي شرکت د چرګانو پالنه او اقتصادي پراختيا د افغان طيور دولتي شرکت ژمنتيا د چرګانو د سکټور د بيا جوړولو لپاره د مهمو ننګونو په موجوديت کې د افغانستان د دوامداره اقتصادي پراختيا لپاره خورا مهمه ده. دا ليکنه د هغو مهمو قضاياوو ژوره يادونه وړاندي کوي، چې د چرګانو صنعت په هيواد کې ور سره مخ دئ او د شرکت هڅې د قانوني او ښو تنظيم سوو کړنو د ودې لپاره په دې اړه ضروري دي. د چرګانو سکټور د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي، د کارموندني فرصتونه برابروي، د خوړو خونديتوب او په ټوليز ډول د کرني او مالدارۍ په صنعت کې فعاله ونډه لري. په هر صورت دا سکټور د ډېرو مهمو ننګونو سره مخ دئ، چې د هغې د ودې او اقتصادي وړتيا مخه نيسي. دا ليکنه د دې ننګونو په اړه د قانوني وسيلو له لارې په حلوونکو هڅو باندي تمرکز کوي.

**د نسلي چرګانو نشتوالی او د کرنيزو ځمکو محدوديتونه:**

يوه د پام وړ ننګونه، چې د چرګانو په سکټور کې ورسره مخ يو د نسلي چرګانو نشتوالی او د چرګانو د خوړو د کرلو لپاره د کرنيزو ځمکو محدوديت دئ. دا ليکنه د توليد مؤثريت باندې د دې ننګونو اغېزې او احتمالي حلونه وړاندي کوي، چې په دې برخه کې بايد د دوامداره نسل پالني معاصر فارمونه او د کرنيزي ځمکي د محدوديتونو د کمولو لپاره نوښتي کرنيزي کړني په جدي ډول پلي سي. د نسلي چرګانو نشتوالی دئ، چې د چرګانو د محصولاتو د توليد ظرفيت او کيفيت باندي مستقيمه اغېزه کوي. برسېره پردې، د چرګانو د خوړو د اجزاوو د کرلو لپاره د مناسبي کرنيزي ځمکي کمښت دا مسله نوره هم پياوړې کوي. د افغان طيور دولتي شرکت د دې خنډونو د حلولو اړتيا ته ژمن دئ او موخه ئې د لوړ کيفيت لرونکي نسلي چرګانو رامنځته کول او د چرګانو د خوړو د اجزاوو دوامداره کښت ته وده ورکول دي.

**له سندونو او د کيفيت له کنټرول څخه پرته د چرګانو د محصولاتو واردول:**

د ورځنيو چرګوړو، درملو، واکسينونو او اضافي موادو غير منظم واردات پرته له مناسب تصديق څخه د چرګانو د صنعت بشپړتيا او سکټور ته د پام وړ ننګوني رامنځته کوي. دا ليکنه د افغان طيور دولتي شرکت د نوښتونو په اړه خبر ورکوي؛ ترڅو قانوني چوکاټونه رامنځته کړي او د نړيوالو معيارونو او رسمي تړونونو د رعايت اهميت حتمي کړي او د چرګانو د محصولاتو صادرات ډاډمن سي، چې کيفيت ئې اړين معيارونه پوره کوي. د تصديق کولو مناسبو پروسو او د کيفيت کنټرول اقداماتو په پلي کولو سره شرکت هڅه کوي، چې په نړيوالو بازارونو کې د افغان چرګانو د محصولاتو شهرت او سيالي لوړه کړي، د کيفيت کنټرول اقدامات پلي کړي او د نړيوالو معيارونو اطاعت يقيني کړي، په دې توګه به په نړيوالو بازارونو کې د سکټور اعتبار پياوړی سي.

**د چرګانو د ارزښت ځنځير:**

دا ليکنه د چرګانو د ارزښت ځنځير کې موجوده تشي در پېژني. د فارمدارانو، سوداګرو او توليدوونکو ترمنځ د همغږۍ د هڅو نشتوالی د افغان طيور دولتي شرکت ستراتيژيو ته د نظام او خلکو پام را اړوي؛ ترڅو دا تشي ډکي سي او د هر اړخيزو تړونونو او شراکتونو ملاتړ رامنځته سي. د پولټري د ارزښت يو با ثباته اقتصادي ځنځير رامنځته سي؛ ځکه د چرګانو د ارزښت په ځنځير کې د تشو شتون د سکټور مؤثريت او توليد ځنډوي. په فارمونو کې د مديريت د مهال وېشونو سره متضاد تعقيب د محصول کيفيت او د بازار د سيالۍ په ساتلو کې ننګوني رامنځته کوي. د افغان طيور دولتي شرکت موخه دا ده، چې دا تشي د شريکانو ترمنځ د همکارۍ په پياوړتيا، کروندګرو او مالدارانو ته د هر اړخيز ملاتړ په چمتو کولو او د چرګانو د ارزښت ځنځير په يقيني کولو سره له منځه يوسي.

**د کيفيت تضمين او قانوني اطاعت:**

ذکر سوو ننګونو ته په ځواب کې د افغان طيور دولتي شرکت په فعاله توګه د چرګانو د محصولاتو کيفيت ساتلو او د مقرراتو د اطاعت په برخه کې قانوني او مسلکي کار کوي. د افغان طيور دولتي شرکت د چرګانو د صنعت د عمومي معيارونو د لوړولو لپاره د نسل پالني، روغتيا ته د پاملرني او د خوړو د توليد لپاره د واضح لارښودونو د جوړولو لپاره د شرکت ژمنتيا ښرګندوي.

**د باور وړ بازار لپاره د مقرراتو او تړونونو رامنځته کول:**

د ژونديو يا ذبح سوو چرګانو د پېرودلو لپاره د بازار د واضح مقرراتو او قانوني تړونونو نشتوالی د سکټور پرمختګ نور هم پيچلی کوي. د افغان طيور دولتي شرکت د بازار د هر اړخيزو مقرراتو اړتيا پېژني، چې په دې برخه کې د ټولو شريکانو ګټې خوندي کړي، عادلانه سيالي تضمين کړي او د مصرف کوونکو باور ته وده ورکړي. د قانوني تړونونو په رامنځته کولو او د کيفيت د معيارونو په پلي کولو سره شرکت هڅه کوي، چې د چرګانو د محصولاتو لپاره يو شفاف او د باور وړ بازار رامنځته کړي. د افغان طيور دولتي شرکت د ژونديو او ذبح سوو چرګانو د پېرودلو لپاره د روښانه بازار نشتوالي ته په کتو سره هڅه کوي، چې منظم او د باور وړ مارکيټونه جوړ کړي. د افغان طيور دولتي شرکت احتمالي اغېزې په بازار کې محصولاتو ته د لاسرسي او د نرخ په ثبات باندي ټينګار کوي، د فارمدارانو لپاره د عادلانه پېر او پلور او د مصرف کونکو لپاره د اعتماد وړتيا ډاډمنوي.

**پايله او راتلونکي امکانات:**

په پايله کې دا ليکنه څو اړخيزه ننګوني، چې د افغانستان د چرګانو سکټور ورسره مخ دئ او دا چې څنګه د افغان طيور دولتي شرکت د بدلون د نوښتونو په سر کې راسي. د قانوني او کيفيت لرونکي کړنو په ودي او تطبيق کولو سره د شرکت موخه دا ده، چې د افغانستان د پايښت لرونکي اقتصادي پرمختګ کې څنګه دا سکټور د پام وړ مرسته کولای سي، په رقابتي نرخونو کې د لوړ کيفيت لرونکي چرګانو محصولاتو ژمنه کوي. د پاليسۍ د لا پراختيا او د صنعت همکارۍ لپاره وړانديزونه هم تر بحث لاندي نيول سوي؛ ترڅو د پولټري د ودي سکټور ډاډمن سي. د افغان طيور دولتي شرکت د افغانستان د چرګانو د سکټور د اقتصادي ودي په لاره کې د مهمو ننګونو په حل کولو سره؛ لکه: د نسلي چرګانو نشتون، د کرني لپاره د کښت د ځمکي، د وارداتو لپاره تصديق او کيفيت کنټرول، د ارزښت ځنځير کې تشي او د بازار مقررات مهم رول لوبوي، شرکت موخه لري، چې د سکټور اسانه او قانوني اقتصادي پراختيا يقيني کړي. د خپلو هڅو له لاري، دوی هيله لري، چې د چرګانو لوړ کيفيت لرونکي محصولات په ارزانه بيه چمتو کړي دا کړنه ئې ودي ته هڅوي او د افغانستان په ټوليزه اقتصادي هوساينه کې مرسته کوي. د اړوندو اړخونو تر منځ د لا زياتو څېړنو او همکارۍ سپارښتنه کېږي؛ ترڅو ذکر سوي ځانګړي ننګوني په نښه کړي او په افغانستان کې د چرګانو يو باثباته او پرمختللي سکټور ته وده ورکړي.

# اعلانات داوطلبی

## د داوطلبۍ خبرتيا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت په شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د ماليې وزارت اړوند د فارياب ولايت د اقينې ګمرک لپاره د اوبو (۲) عرادې ټانکرونو د تدارک) د داوطلبۍ په پروژه کې، چې تشخصيه نمبر ئې (۱۰۱-NCB-G/۱٤۰۲/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي پتو څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبۍ وړاندي جلسې ټاکلې نېټه: ۱۴/ دلو /۱۴۰۲ د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرګشايۍ ټاکلې نېټه: د دلوي ۱۸/ /۱۴۰۲ د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: ۱۵۰۰۰۰ (يولك او پنځوس زره ) افغانۍ.

ځای: د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت – پښتونستان واټ.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنيتي آفرونه نه منل کېږي.

## د داوطلبۍ خبرتيا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت په شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د پکتيا ولايت په ډنډ پټان ګمرک کی د يو باب جومات د ودانۍ جوړول) د داوطلبۍ په پروژه کې، چې تشخصيه نمبر ئې (۰۷٦-NCB/W/۱٤۰۲/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي پتو څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبۍ وړاندي جلسې ټاکلې نېټه:

۱۱/ دلو /۱۴۰۲ د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرګشايۍ ټاکلې نېټه: د دلوي ۲۲/ /۱۴۰۲ د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: ۳۳۹۵۰۰ ( درې لك نهه دېرش زره او پنځه سوه ) افغانۍ.

ځای: د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت – پښتونستان واټ.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنيتي آفرونه نه منل کېږي.

## د کابل ولايت (۹) مي ناحيې اړوند د پشمينه بافي سره د (۹۲۰) متره مربع ځمکي د داوطلبۍ خبرتيا

د ماليې وزارت، د دولتي املاکو لوی رياست غواړي، چې د کابل ولايت (۹) مي ناحيې اړوند د پشمينه بافي سره د (۹۲۰) متره مربع ځمکه د روغتيايي خدمتونو کلينيك د وړاندي کولو په موخه، چې مياشتنۍ کرايه ئې (۸۱۵۷۳) افغانۍ ده د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وسپاري. ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص، چې غواړي نوموړی ملکيت په کرايه ونيسي کولای سي، خپل غوښتنليکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی رياست ته وسپاري او د ياد سوي ملکيت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قيمت ته په کتو تر لاسه کړي.

## د کابل ولايت لومړۍ ناحيې اړوند د سينما پامير ودانۍ اول منزل کي د (۲) بابه غرفو د داوطلبۍ خبرتيا!

د ماليې وزارت، د دولتي املاکو لوی رياست غواړي، چې د کابل ولايت لومړۍ ناحيې اړوند د سينما پامير ودانۍ اول منزل کې د (۲) بابه غرفې په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له پاره اعلان ته وسپاري.

۱. يو باب (۲۲) مه شمېره غرفه چې (۵،۰٦) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ کرايه ئې (۲۵۰۰۰) افغانۍ ده.

۲. يو باب (۲۳ او ۲۴) مه شمېره غرفه، چې (۹،۰۳) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ کرايه ئې (۲۰۰۰۰) افغانۍ ده.

۳. يو باب (۲۰) مه شمېره غرفه، چې (۸،۹۳) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ کرايه ئې (۲۲۵۰۰) افغانۍ ده.

ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص، چې غواړي نوموړي ملکيتونه په کرايه ونيسي کولای سي، خپل غوښتنليکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۲۱) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی رياست ته و سپاري او د ياد سوي ملکيتونو شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قيمت ته په کتو تر لاسه کړي.

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)







## د پاکستان ـ افغانستان ترمنځ د تورخم لاره پرانیستل سوه

د اېکسپرېس ټریبیون ـ THE EPRESS TRIBUNE په نوم پاکستانی رسنۍ په یوه راپور کي لیکلي دي، چې له تېري سه شنبې (۲۳ جنوري/ ۳ دلوه) څخه بیا د روان زېږدیز کال د مارچ تر (۳۱) مې نېټې پورې به دا پوله پرانیستې وي، ځکه چې پاکستان د اسنادو په غوښتنه کي نرمښت ښکاره کړ. دا پرېکړه وروسته له هغه کېږي، چې افغان سوداگرو او د سوداگرۍ خوني استازو په کابل کي د پاکستان په سفارت کي له پاکستاني سوداگرو


په لومړي سر کي پاکستان له افغان لارۍ چلوونکو څخه د پاسپورټ او وېزو غوښتنه کړې وه او افغانستان دا غوښتنه رده کړې وه، چې وايي دا چاره د سوداگرۍ د بندېدو لامل و گرځېده.


سره و کتل او په څو ورځو کي ئې د دوهم ځل له پاره د تورخم بندر د خلاصېدو غوښتنه وکړه. په لومړي سر کي پاکستان له افغان لارۍ چلوونکو څخه د پاسپورټ او وېزو غوښتنه کړې وه او افغانستان دا غوښتنه رده کړې وه، چې وايي دا چاره د سوداگرۍ د بندېدو لامل و گرځېده. په راپور کي د ښه خبر د اورېدو خبره هم مطرح سوې ده، چې وايي: « د افغانستان د حکومت وياند ذبيح الله مجاهد ويلي دي، چې يو توافق نږدې دئ او خلگ کولای سي، چې ډېر ژر د مثبتو خبرونو تمه پيدا کړي». راپور زياتوي، چې د افغانستان اسلامي امارت او د سوداگرۍ خوني پلاوي د پاکستان د سفارت له کارکوونکو سره د وېزې په شرايطو کي د نرمښت په مقصد بحثونه وکړل او پر سوداگرۍ باندي د لوېدلو اغېزو په باب ئې هم خبري وکړې. يادي رسنۍ ته د گمرک يوه مسؤل ويلي وه، چې د بند په درشل کي د پاکستان صادرات و افغانستان ته تر صفري کچې پوري رسېدلي ول. په راپور کي اوښتو زيانونو ته هم اشاره سوې ده، چې وايي: «دواړو غاړو ته هره ورځ د (۶۸۰) ميليونه روپيو په ارزښت زيان اوښتی دئ.» په داسي حال کي، چې وايي د دې مهم بندر (۱۰) ورځې بندېدو د دواړو ملکونو سوداگري اغېزمنه کړه.

## IEA to Establish Independent Administration for Improvement, Development of Affairs of EOCs



After sharing the comprehensive report of the status-assessment-committee of the Emirate-owned Corporations (EOCs) to the leadership of the IEA, H. H. Amirul Momineen (may Allah protect him) issued a special decree for the further development of the affairs of Emirate Corporations and the improvement of the economic situation of the country, based on which an independent body will be established for the purpose of leadership and management of EOCs. For this intention, a meeting was launched in the media center, which was attended by The Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Baradar Akhund; Minister of Finance, Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund; General Director or Governor of DAB (Central Bank), Alhaj Mullah Hidayatullah Badri; the head of the delegation of the leadership of EOCs, Maulawi Ahmad Jan Bilal, some members of the cabinet, Directors of EOCs, members of the private sector and media representatives. In accordance with latest decree of H. H. Amirul Momineen (may Allah protect him), an independent body will be established for the purpose of administration and leadership of EOCs, which will further develop the affairs of Emirate-owned Corporations, attracting the investments; prevent monopolies and hoardings, creating of competition opportunities in the markets and as well as will have effective consequences in the economic development of the country wholly.

## Nimroz Customs Mobile Surveillance Staff Seizes Various Contrabands

Mobile surveillance or monitoring staff of Nimroz Customs have discovered and seized a quantity of contrabands, which were being smuggled into the country in different areas of the this province. These contrabands include 33 ton of malt, 22 ton of sweets, 23.7 ton of tomato paste and 10 bikes. The seized contrabands and accused persons have been handed over to Nimroz Customs for further proceedings.




## Minister of Finance Meets with Numerous Businessmen from Kandahar, Helmand, Herat Provinces

Minister of Finance, Alhaji Mullah Muhammad Naser Akhund has met with the officials of Chamber of Commerce of Kandahar province and a number of traders. In this meeting, attended by several Directors of MoF, discussion has been made about the speedy processing of goods in customs, taxes on fuel stations and also the issues related to audit. Traders also shared their problems with the Minister of Finance in this regard. Minister of Finance assured that he will do his best to access and the problems of the traders will be addressed in a timely and good manner. In the end, the Minister of Finance requested the officials and businessmen to share their problems and demands in written form with the joint committee of the MoF and Chamber of Commerce that has been formed by the order of the Supreme Leader, H. H. Amir al-Momineen (may Allah protect him), in order to solve the problems of businessmen; therefor that it can be reached in a timely and practical manner.










د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.